# ګوزڼ یا پولیو- Poliomyelitis یا Polio یا د ماشومانو فلج

ګوزڼ یا پولیو یوه ساری ویروسی ناروغی ده چی د پولیو وایرس په واسطه انتقال او د ماشومانو د فلج سبب کیږی. ډیری ناروغان کوم خاص اعراض او علایم نلری اما په بعضی واقعاتو کی د عضلی فلج او حتی د مړینی سبب هم کیدی شی. د امریکی دوه دیرشم جمهور ریس، فرانکلین روزولت د هغو مشهورو خلکو له جملی ده چی د جمهوری ریاست مقام ته له رسیدو مخکی ګوزڼ وهلی او له ملا لاندی فلج وه.

## د ګوزڼ د کنترول په اړه پرمختیاوی:

پخوا په امریکی که پولیو یا ګوزڼ یوه معمولی ناروغی وه خو په ورستیو دری لسیزو کی د ګوزڼ هیڅ واقعی رپورټ نده ورکړل شوی. د پنځوسمی لسیزی را پدی خوا چی د پولیو یا ګوزڼ واکسینول د مرض له مخنیوی له خاطره را پیل ښوی ډاکتران ټولو ماښومانو ته دی واکسین د تطبیق سپارښتنه کوی. د پولیو یا ګوزڼ ناروغی ریښی د لویدیزی نیم کری، اروپا، جنوب ختیځه آسیا او اقیانوسیه هیوادونو څخه ټولی شوی او یواځی د آسیا او افریقا په ځینی هیوادنو کښی تر اوسه هم لیدل کیږی. په افریقا کی د ناجیریا هیواد او په آسیا کی د پاکستان او افغانستان هیوادونو کښی لیدل کیږی. د ۲۰۱۴ کال د فبروری میاشت کښی هندوستان- چی پخوا د ۸۵٪ وقایعو منبع وه - د نړی د صحی سازمان له خوا د پولیو څخه د خلاصون تصدیق تر لاسه کړ.

هغه دری هیواده چی د ګوزڼ ریښی په کښی له منځه ندی تللی پاکستان، افغنستان او نایجیریا دی. او په نورو شلو هیوادو کی د دغی ناروغوی عود یا بیا راتلنه د اندیمیک منطقو څخه د ناکافی معافیت په وجه لیدل شوی دی. د ۱۹۹۸ څخه تر ۲۰۱۱ کلونو د ګوزڼ د ناروغی د کلنیزی واقعاتو کچه ۹۹،۹ سلنه را ټیټه شوی (له ۳۵۰۰۰۰ واقعو ۱۰۰۰ واقعو ته ټیټه شوی ده.) په ۲۰۱۳ کال کښی په ټوله نړی کی د ګوزڼ ۴۱۶ واقعاتو رپوټ ورکړل شوی دی. د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر میاشت کښی د ۱۴۹ تصدیق شوو ګوزڼ واقعو رپوټ ورکړل ښوی چی ۷۸ سلنه یی په پاکستان کښی وی.

## د ناروغي اعراض او علایم:

- په ګوزڼ ډیری واقعو کی هیڅ ډول اعراض او علایم نه لیدل کیږی.
- په ځینو نورو وقعو کښی در سر خوږ، د ستونی خوږ، تبه، زړه بدوالی، کانګی او سټړیا لیدل کیږی.
- په ځینو نورو واقعو کښی په پورتنیو اعراضو سربیره، ځینی نور جدی اعراض لکه د غاړی، ملا او عضلاتو درد، ضعیفی او د پښو، لاسو، او د حاجز حجاب فلج کیدل لیدل کیږی چی په ناروغانو کی د سا اخیستو، خوړلو، او خبری کولو مشکلات منځ ته راوړی.

**د ګوزڼ د ناروغی سرایت او انتقال:**

د ګوزڼ د ناروغی سرایت په عام ډول د ناروغ د غایطه موادو سره په تماس کښی راتلولو، چی پولیو ویروس لری، په لاندی ډولونو صورت مومی.

- د هغو غذایی موادو او مایعاتو اخیستل چی د پولیو ویروس سره ملوث یا ککړ وی.
- د هغو ځایونو او اشیاو لمس کول که چی د منتن اشخاصو په غایطه موادو ملوث وی.
- د ګوزڼ ویروس کولی شی چی د لاړو له طریقه  هم سرایت وکړی. پدی معنی چی دغه ناروغانو خواړه او د خوړو لوښی د ناروغی د انتقال سبب کیدی ښی.

**آیا د ګوزڼ د ناروغی د تشخیص او پیژندلو لپاره کومی معاینی شته؟**

هو. د دی  ناروغی د تشخیص لپاره د ناروغ د ملا څخه یو ډیر کم اندازه مایع، د هغه عملیه له لاری چی  Lumbar Pancture او یا  Spinal Tap په نامه یادیږی اخیستل کیږی او لابراتوار ته لیږل کیږی، څو چی د ویروس ښتنه په کښی معلومه کړی.

**د ګوزڼ ناروغی څه رنګه تداوی کیږی؟**

د ګوزڼ ناروغی کومه سببی درملنه نلری او یوازینی درملنه یی د ناروغی مخنیوی ده، او د ګوزڼ د واکسین تطبیق کول دی.

**د ګوزڼ د ناروغانو عرضی تداوی:**

- دتسکین کونکو درملو کارول د عرضی درملنی لپاره.
- فزیوتراپی - د فزیکی تمریناتو او د اعضاو د تقویی په خاطر.
- مصنوعی تنفس ورکول یا Mechanical Ventelation په هغو ناروغانو کی جدی تنفسی مشکلات ولری.

په درناوی. ناصراوریا